تقریباً 23 کاله مخکښینې بیان

# د شرابو بوتل

پښتو




شیخ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیِّیْن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

# د شرابو بوتل

**دُعائے امیرِ اهلِ سنّت:** یاربَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله "د شرابو بوتل" اولولي یا واوري هغه ته په جنَّتُ الفردوس کښې ځائے نصیب کړې او هغه سره د مور او پلار بے حسابه اوبخښې. اٰمین بِجاه خاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## دُرُود شریف کې فضیلت

د حضرتِ حَسَن بَصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په خدمتِ بابَرَکت کښې یوه ښځه حاضِره شوه او عَرض ئې کړو: زما پیغله لُور وفات شوې ده، څه طریقه ارشاد اوفرمائے چې زه هغه په خوب کښې اُووِینم. هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ هغې ته عمل اوښودو. هغې خپله مرحومه لُور په خوب کښې اولیده خو په دې حال کښې ئې اولیده چې د هغې په بدن باندې د تارکول لباس، په څټ کښې زنځیر او په ښپو کښې بیړئ دي، دا هیبت ناک منظر ئې چې اولیدو نو هغه ښځه په لړزان شوه! هغې بله ورځ دا خوب حضرتِ حَسَن بَصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ته واورولو، هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ چې واوریدو نو ډیر خفه شو. څه موده پس حضرتِ حسن بصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په خوب کښې یوه جینئ اولیده، چې په جنّت کښې په یو تَخت باندې ناسته ده او تاج ئې په سر کړے دے. دوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ئې چې اولیدو نو هغې اُووئیل: "زه د هُم هغې ښځې لُور یم، چا چې تاسو ته زما حالت بیان کړے وو." هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ اُوفرمائیل: د هغې د وینا مطابق خو ته په عذاب کښې وې، آخِر دا انقلاب څنګه راغلے؟ مرحومې اُووئیل: د ادیرې [قبرِستان] په خوا یو کس تیریدلو او هغه په خوږ مصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې دُرُود اولوستو، د هغه د دُرُود شریف لوستلو په برکت **اللّٰه** پاک مونږه پینځه سوه او

شپیته قبر والؤ نه عذاب لرې کړو. (قبر والوں کی 25 حکایات، ص 21. التذکرہ باحوال الموتی، 77 ماخوذاً)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د شرابو بوتل

حضرتِ عُمَرفاروقِ اَعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ یو ځلې د مدینے منوَّرې په یوه پاکیزه کوڅه تیریدلو چې یو ځلمے مخې له ورغلو، هغه د جامو نه لاندې یو بوتل پټ کړے وو. حضرتِ عُمَر فاروقِ اَعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ترینه تپوس اوکړو: "اے ځلمیه! دا د جامو لاندې دې څه راخستي دي؟" په هغه بوتل کښې شراب وو، ځلمې هغې ته د شرابو وئیلو هِمّت نه شو کولے، هغه په زړه کښې دعا اوکړه چې "یا **الله** پاکه! ما د حضرتِ عُمَر فاروقِ اَعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په وړاندې شرمِنده کیدلو او رُسوا کیدلو نه اوساتې، د هغوئې په وړاندې زما پرده پوښي اُوفرمائے، زه توبه کووم، آئنده به کله هُم شراب نه څښم." د دې نه پس ځلمې عرض اوکړو: "یا اَمیرَ الْمُؤمنین! ما سره د سِرکې بوتل دے." هغوئې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اُوفرمائیل: ما ته اُوښایه!" چې کله ئې هغه بوتل هغوئې رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته اوښودو او حضرتِ عُمَر فاروقِ اَعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هغه اولیدو نو واقعي هغه سرکه وه. (نیکی کی دعوت، ص 405. مکاشفۃ القلوب، ص 27، 28)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** لږ غور اوکړئ چې کله یو کس د یو بنده نه اُویریدو او دزړه د اخلاصه ئې توبه اوکړه نو **الله** پاک د هغه شراب په سِرکه کښې بدل کړل. هُم داسې چې څوک ګنهګار بنده په خپلو ګناهونو باندې پښیمانه شي او توبه اوکړي نو **الله** پاک د هغه د نافرمانو شراب د فرمانبردارئ په سِرکه کښې بدل کړي. او دا هُم معلومه شوه چې توبه د ژبې خوزولو نه بغیر په زړه کښې هُم کیدے شي چې په حدیثِ پاک کښې دي: "اَلنَّدَمُ تَوْبَةٌ یعني شرمندګي توبه ده." (ابن ماجه، 4/492، حدیث: 4252) دا هُم معلومه شوه چې په دُعا کښې لاس اوچتول او په ژبه دُعا غوښتل ضروري نه دي بلکې په ملاسته ملاسته، په ناسته ناسته، په روانه روانه د ژبې خوزولو نه بغیر په زړه کښې هُم دُعا غوښتلے شي.

## د شرابو په مَذمَّت کښې آیاتِ مبارکه

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَ الْمَيْسِرُ وَ الْاَنْصَابُ وَ الْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۹۰﴾ اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَ الْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَ الْمَيْسِرِ وَ يَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَ عَنِ الصَّلٰوةِ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ﴿۹۱﴾ (پ7، المائدۃ: 90، 91)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: اے ایماندارو! شراب او جُواري او بُتان او د قسمت معلومولو غشي ناپاکه شیطاني کارونه دي نو د دې نه بچ اوسئ چې تاسو کامیاب شئ (۹۰) شیطان خو هُم دا غواړي چې د شرابو او جوارئ په ذریعه ستاسو په مینځ کښې دُښمني او بُغض او کِینه واچوي او تاسو د الله د یاد نه او د لـمانځه نه منع کړي نو آیا تاسو منع کیږئ؟ (۹۱)

د دې آیتِ مبارکه لاندې په تفسیر صِراطُ الجنان کښې دي: په دې آیت کښې د شرابو او جوارئ نتیجې او نقصانونه بیان کړے شوي دي چې د شرابو څښلو او جوارئ ظاهري دنیائي نقصان خو دا دے چې د دې نه خپل مینځ کښې بُغض او عداوتونه (یعني نفرتونه او دُښمنئ) پیدا کیږي او ظاهري دیني نقصان ئې دا دے چې څوک په دې بدو کښې اخته وي هغه د ذِکرِ الٰهي او د لـمانځه د وختونو د پابندئ نه محرومه پاتې شي. دې نه معلومه شوه چې کوم څیز د **الله** پاک د ذِکر او د لـمونځ نه حصارول کوي هغه بد او د پرېښودلو قابل دے. (تفسیرصراط الجنان، پ7، المائدۃ، تحت الآیۃ: 91، 3/26) په یو رِوایت کښې دي چې جبریل امین علیہ السلام د حضور انور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې عرض اوکړو چې **الله** پاک ته د جعفر طیّار رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ څلور خصلتیونه خوښ دي. سرکارِ دو عالم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرتِ جعفر طیار رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه تپوس اوکړو: هغوئي عرض اوکړو چې یو خصلت خو دا دے چې ما کله شراب نه دي څښلي، یعني د [شرابو د] حُرمت د حکم نازلیدو نه مخکښې مې هُم کله

شراب نه څښلي او د هغې وجه دا وه چې ما ته معلومه وه چې د دې سره عقل زائل کيږي او ما دا غوښتل چې زما عقل نور هُم تيز شي. دويم خصلت دا دے چې په زمانهٔ جاهليت کښې هُم ما کله د بُت عبادت نه دے کړے ځکه چې ما ته معلومه وه چې دا کاڼے دے نه فائده ورکولے شي او نه نقصان. دريم خصلت دا دے چې زه کله په زِنا کښې نه يم اخته شوے ځکه چې ما دا بےغيرتي ګڼله. څلورم خصلت دا وو چې ما کله دروغ نه دي وئيلي ځکه چې ما دا ذلالت ګڼلو. (تفسيراتِ احمديه، ص101 ملتقطاً)

سبحانَ الله! څومره زبردست سَلِيمُ الفطرت وو. حضرتِ علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائيلي دي چې که د شراب يو څاڅکے په کوهي کښې پريوځي بيا په هُغه ځائے مَنَارَه جوړه کړے شي نو زه به په هغې باندې اذان اُونه وايم او که په درياب کښې د شرابو څاڅکے پريوځي بيا درياب وچ شي او هلته ګيا اوشي نو زه به په هغې کښې خپل څاروي اُونه څروم .(تفسير نسفي، پ2، البقرة، تحت الآية:219، ص113)

## د شرابو په مذمت کښې ووه [7] فرامينِ مصطفٰی

﴿1﴾ حضرتِ وائل حَضرَمي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې طارق بن سُوَيد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د شرابو په باره کښې تپوس اوکړو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم منع کړلو، هغوئي عرض اوکړو: زه صِرف دوائي د پاره شراب جوړووم. حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: دا دوائي نه بلکې بيماري ده. (مسلم، ص845، حديث:5141)

﴿2﴾ حضرتِ عَبدُ الله بن عُمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دے چې رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے: څوک چې شراب وڅښي 40 ورځو پورې به د هغه لمونځ نه قبليږي خو که هغه توبه اوکړه نو **الله** پاک به د هغه توبه قبوله کړي. بيا که دوباره هغه شراب وڅښل نو بيا به د 40 ورځو پورې د هغه لمونځ نه قبليږي خو که هغه توبه اوکړه نو **الله** پاک به د هغه توبه قبوله کړي. بيا که هغه دريم ځل شراب

وڅښل نو بيا به د 40 ورځو پورې د هغه لـمونځ نه قبليږي خو که هغه توبه اوکړه نو الله پاک به د هغه توبه قبوله کړي. بيا که هغه څلورم ځل شراب وڅښل نو بيا به د 40 ورځو پورې د هغه لـمونځ نه قبليږي خو د هغې نه پس که هغه توبه اوکړه نو د هغه توبه به نه قبليږي[1] او په هغه باندې به د **نَهْرُ الْخَبَال** نه څښې. " د راوي نه تپوس اوکړے شو چې **نَهْرُ الْخَبَال** څه دے؟ نو هغوئ اووئيل چې هغه نهر کوم چې به د دوزخيانو د نوونو نه جاري کيږي. (ترمذي،341/3،حديث:1869)

﴿3﴾ حضرتِ ابو موسىٰ اَشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې نبئ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے: "درې کسان به جنَّت ته نه داخِليږي. په شرابو مُداوَمَت کوونکے (يعني هميشه څښلو والا) او قاطِع رِحم (يعني خپلوي ماتوونکے) او د جادو تصديق کوونکے."[2] (مسند امام احمد، 139/7، حديث: 19586 ملخصاً)

﴿4﴾حضرتِ عَبدُ الله ابنِ عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُما نه روايت دے چې نبئ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے: دائمي طور [يعني هميشه] شراب څښونکے که په هُم دغه حالت

---

[1]... شيخِ محقق شاه عبدُ الحق محدث دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: په څلورم ځل د شراب څښلو نه پس چې کوم "د توبې نه قبليدو" ارشاد فرمائيلے شوي دي دا د ګناه د سختئ بيانولو او ويرولو د پاره دي ځکه چې که رښتيني توبه اوکړے شي نو د الله پاک په فضل به ضرور قبليږي. يا بيا دا مراد دے چې څلورم ځل څښلو نه پس به الله پاک هغه ته هډو د توبې توفيق نه ورکوي بلکه هغه به په ګناه مداومت [هميشګي] کوونکے مړ کيږي. (لمعات التنقيح،430/6،تحت الحديث:3643)

[2]... حضرتِ علّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک د دې حصّې "او د جادو تصديق کوونکے" نه لاندې فرمائي: د دې نه مُراد هغه کس دے څوک چې د جادو د تاثير بِذاتِه (يعنى د الله پاک د ورکړې نه بغير پخپله د دې د تاثير) قائل وي.(مرقات،242/7،تحت الحديث:3652)

کښې مړ شو نو هغه به په ورځ د قيامت په دربارِ خُداوندي کښې داسې راځي لکه يو بُت پرست.[3] (مسند امام احمد، 583/1، حديث:2453)

﴿5﴾حضرتِ اَ نَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې رَسُولُ الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم اِرشاد فرمائيلے: الله پاک د شرابو په باره کښې په لسو کسانو باندې لعنت فرمائيلے دے: (1) شراب نچوړوونکي باندې (2) په بل کس باندې شراب نچوړولو والا باندې (3) شراب څښونکي باندې (4) شراب اوچتوونکي باندې (5) په هغه باندې د چا طرف ته چې شراب يوړلے شو (6) په خلقو شراب څښوونکي باندې (7) د شرابو قيمت [رقم] خوړونکي باندې (8) شراب خرڅوونکي باندې (9) شراب اخستونکي باندې (10) په هغه باندې د چا د پاره چې شراب اخستے شوي وي. (ترمذي، 47/3، حديث:1299)

﴿6﴾حضرتِ ابو مالک اَشعري رضی اللہ عنہ نه رِوايت دے چې نبئ اَکرم صلی اللہ علیہ والہ وسلم اِرشاد فرمائيلے: زما د اُمَّت څه خلق به شراب څښي او د دې نوم به بدل کړي څه بل [نوم] به کيږدي، د هغوئې په سَرونو به باجے غږولے کيږي او سندر غاړې به سندرې وائي. الله پاک به هغوئې په زمکه ننباسي او په هغوئې کښې به څه خلق شادوګان او خنزيران جوړ کړي. (ابن ماجه، 368/4، حديث:4020)

﴿7﴾ د حضرتِ ابُو اُ مامه رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې رسولُ الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمائيلي دي: الله پاک فرمائي: قسم دے زما د عزت! زما کوم بنده چې د شرابو

---

[3] ... يعنې د توبه کولو نه بغير شرابي کيدلو کښې مړ شي نو الله تعالیٰ به د هغه نه داسې ناراضه شي لکه څنګه چې به د بت پرست نه ناراضه وي، په قرآنِ کريم کښې رب تعالیٰ شراب د بتانو سره ذِکر کړي دي. هُم دغسې که شرابي په نشه کښې بت پرستي اوکړي نو هيڅ د حيرانتيا خبره نه ده ځکه چې بے عقله هر څه کوي نو شراب د بت پرستۍ ذريعه جوړيدے شي، غرض دا چې دا وعيد ډير سخت دے. (مرأة المناجيح، 337/3 ملتقطاً)

يو ګُوټ هُم وڅښي زه به په هغه باندې هُم هغه همره نوونه څښووم او کوم بنده چې زما د ويرې نه هغه پرېږدي زه به په هغه باندې د حَوضِ قُدُس (يعنې د جنتي چينې) نه څښووم. (مسند امام احمد، 286/8، حديث:22281 ملتقطاً)

## شراب څه ته وائي؟

هر هغه بهيدونکے څيز (يعنې Liquid) د کوم د څښلو سره چې نشه راځي هغه شراب دي، که هغه د هر څيز نه جوړ کړے شوي وي.(فتاوٰي رضويه،205/25 ملخصاً)

## د شرابو څښلو حکم

شراب څښل سخته ګناه کبيره ده. (فتاوٰي رضويه،101/25)

## د شرابو څښلو يو څو وجوهات

﴿1﴾ د شرابيانو سره ناسته ولاړه ﴿2﴾ جَهالَت (لکه څنګه چې بعضې خلق دا ګڼي چې د شرابو څښلو سره غم لرې کيږي) ﴿3﴾د سندرو او ګډاګانو په محفلونو (Function's) کښې شرکت کول، خاص طور Dance club's [د ګډا کلب] ته تلل (په داسې ځايونو کښې شراب څښل عام وي او يو بل ته د کتلو په وجه پخپله هُم په دې ګناه کښې د اخته کيدو خطره وي).

## د شرابو نقصانات

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د شرابو بيشميره طِبّي او اَخلاقي او مُعَاشرتي نقصانات وي، په هغو کښې يو څو پيش خدمت دے چنانچه

## د شرابو طِبّي نقصانات

﴿1﴾د يو ماهر وينا ده چې په شروع شروع کښې اِنساني بدن د شرابو د نقصان رسوونکو آثراتو مقابله کوي او شراب څښلو والا ته د خوشحالئ کيفيت

محسوسيږي خو ډير زر په انسان کښې د برداشت والا قوّت ختم شي او د شرابو نقصان رسوونکي اَثرات خپل کار شروع کړي. ﴿2﴾د شرابو د ټولو نه زيات اثر په ځيګر (Liver) باندې کيږي يعنې ځيګر خرابيدل شراع شي.﴿3﴾ د شرابو په وجه په ګردو (Kidneys) باندې بوج زيات شي او آخر دا چې ګردے فيل شي. ﴿4﴾ د شرابو په وجه دِماغ او معده پړسيږي او هډوکي نرم او کمزوري شي. ﴿5﴾د شرابو په وجه په بدن کښې موجود وټامنز (Vitamins) هُم په تيزئ سره ختميږي او ورسره ورسره سترګې کيدل، د سَر دَرد، اُلټئ محسوسيدل او تنده هم زياته لږي. ﴿6﴾په زيات مقدار کښې د شراب څښلو والا زړه او د ساه اخستلو عمل هُم اودريږي او هغه فوراً مړ کيدے شي. ﴿7﴾د يو ماهر وينا ده چې د 12 نه 23 کاله په عُمر کښې د شرابو عادت اخستونکو کښې 51 فيصده کسان [د شرابو د وجهې نه] مړه کيږي. د يو بل مشهور محقق وينا ده چې د 20 کالو د عمر نه شراب څښلو والا اَکثر کسان د 35 کالو نه زيات ژوندي نه پاتې کيږي.

(برائیوں کی ماں، ص43-44 ماخوذاً)

## د شرابو اَخلاقي اومُعاشرتي نقصانات

﴿1﴾په زرګاؤ خلق د شرابيانو د لاسه بے قصُوره قتل کيږي. ﴿2﴾شرابيان خاوندان په خپلو ښځو ظُلم و سِتم کوي.﴿3﴾ ډيرو ښځو سره د شرابيانو له طرفه جِنسي زيادتے کيږي. ﴿4﴾د شرابيانو والدينو اَولاد هُم د عامو ماشومانو په مقابله کښې زيات بيماريږي او کمزوري وي. ﴿5﴾دا نقصان هُم کيږي چې د شرابي کس د کور خلق او دوستان وغيره د هغه د مينې، محبّت، همدردئ او خُلوص وغيره نه محرومه پاتې کيږي. (تفسیر صراط الجنان، پ7، المائدہ، تحت الآیۃ:90، 3/22 ملخصاً)

## شراب او شرابیانو نه لرې اوسیدو کښې خیر دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د شرابو د بیشمیره نقصاناتو په وجه اِسلام شراب حرام کړي دي او که غور اوکړے شي نو یو عقل مند اِنسان هُم د هٰغه څیز طرف ته لاس نه شي وړ وړاندې کولے د کوم چې نقصانات ډیر زیات وي. د اُمّت خیر خواه، خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: څوک چې په اللّٰه پاک او د آخرت په ورځ باندې ایمان لري هغه دې داسې دسترخوان ته نه کښیني په کوم باندې چې [شراب] څښل شي. (ترمذي،366/4،حدیث:2810) او یو ځلې خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائیلو: کوم خلق چې په دنیا کښې د کوم نشه کوونکي [کس] خوا ته راځي، اللّٰه پاک به هغوئي ټول په دوزخ کښې واچوي او هغوئي به په دوزخ کښې یو بل ته بدې ردې وائي چې هُم تا زه دې ځائے ته رارسولے یم. (کتاب الکبائر للذهبي، ص95 ملخصاً) څکه داسې محفل یا پارټۍ وغیره نه پخپله اینبودل پکار دي چې په هغې کښې شراب وي او نه په داسې محفل یا پارټۍ کښې شرکت کول پکار دي. که د چا په ذِهن کښې دا خیال راشي چې شراب خو به د راتلونکو غیرمسلمون د پاره کړېدم، پخپله به ئې نه څښم نو دا مسئله یاده ساتئ چې په غیر مُسلِم هُم شراب څښل حرام دي او په هغوئي څښوونکے به سخت ګنهګار شي. (هدایة،398/2 ملخصاً)

## د شرابو عادت څنګه ختم کړے شي؟

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د چا چې مَعَاذَاللّٰه د شرابو څښلو عادت جوړ شوے وي نو د هغه د پاره د دې بد عادت نه د ځان خلاصولو د پاره دا تدابیرونه اختیارول بیحده فائده مند دي: ﴿1﴾ د ټولو نه مخکښې داسې دوستانو او مجلسونو نه ځان لرې ساتل شروع کړئ چرته چې شراب څښل شي. ﴿2﴾شراب څښلو نه رښتیني توبه اوکړئ او د اللّٰه پاک نه دا دُعا غواړئ چې هغه د شرابو نه همیشه د

پاره د لرې اوسيدو توفيق او قوّت درکړي. ﴿3﴾د شرابو عادت نه ځان خلاصولو د پاره که د علاج ضرورت وي نو هُم اُوئې کړئ.﴿4﴾که کيدے شي نو د حلال ګټلو خوړلو نه عِلاوه چې درسره کوم وخت وي هغه د فارغ تيرولو په ځائے د نيکئ په کارونو مثلاً د سنّتو ډکو اجتماعاتو او د عاشقانِ رسول په صحبت او مَدَني قافلو کښې سفر کولو کښې تيروئ. ﴿5﴾چې کله مو شيطان دوباره شراب ښبنلو ته راپارول شروع کړي نو په اَحاديثِ مبارکه کښې بيان شوو د هُغه عذابونو تصوّر په خپل زړه کښې راولئ چې: که شراب وښبنم نو د قيامت په ورځ به تږے راپاڅولے کيږم. (مسندامام احمد،274/5، حديث:15482ملخصاً) که شراب وښبنم نو د زړه نه به مې د ايمان نور اُوځي. (معجم اوسط،110/1، حديث:341ملخصاً) که شراب وښبنم نو په دوزخ کښې به مې فرښتې د اوسپنو په ګرزونو وهي. (الترغيب والترهيب،182/3، حديث:43ملخصاً) که شراب وښبنم نو د جنّت خوشبو به هُم محسوس نه کړے شم. (ابن ماجه،62/4، حديث:3376ملخصاً) که شراب وښبنم نو د لعنت مستحق به اوګرځم. (ابن ماجه،64/4، حديث:3380ملخصاً) که شراب وښبنم نو په دوزخ کښې به راباندې خوټکيدلې اوبه ښبنلے کيږي. (مسندامام احمد،286/8، حديث:22281ملخصاً) که شراب وښبنم نو په قبر کښې به خنزير جوړ کړے شم.

(ابن ماجه،364/4، حديث:4020ملخصاً – اسلام ميں شراب کی حيثيت، ص2321ماخوذاً)

## د توبې ترغيب

د توبې لوئې اهميت دے او دا د **الله** پاک په مونږه ډير کرم دے چې هغه مونږ ته د توبې پشان نعمت عطا کړے دے. بنده خومره خوش نصيبه دے چې که بتقاضائے بشريت د ده نه دروغ ، غيبت، د شرابو نشه يا بله څه ګناه اوشي او بيا د **الله** پاک په بارګاه کښې په پښيمانتيا سره مُعافي اوغواړي نو هغه ته مُعافي ورکړے

شي. په قرآنِ پاک کښې د توبې کولو ترغيب ورکړے شوے دے، چنانچه الله پاک اِرشاد فرمائي:

يَاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْاتُوْبُوْۤا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا (پ28، التحريم:8)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ الْعِرفان: اے ايمان والؤ! د الله طرف ته داسې توبه اوکړئ چې د هغې نه پس د ګناه طرف ته ګرځيدل نه وي.

په يو بل مقام کښې اِرشاد کيږي:

وَهُوَالَّذِيْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَعْفُوْاعَنِ السَّيِّاٰتِ (پ25، الشوريٰ:25)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ الْعِرفان: او هُم هغه دے چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي او ګناهونه معاف کوي.

حديثِ پاک کښې دي: اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَه يعنې د ګناه نه توبه کوونکے داسې دے لکه هغه چې هډو ګناه کړې نه وي. (ابن ماجه، 491/4، حديث:4250) لهٰذا هر اسلامي ورور او اسلامي خور ته پکار دي چې د توبه کولو نه غفلت نه کوي.

جب کہا عصیاں سے میں نے سخت لاچاروں میں ہوں
جن کے پلّے کچھ نہیں ہے اُن خریداروں میں ہوں
تیری رَحمت کیلئے شامل گنہگاروں میں ہوں
بول اُٹھی رَحمت نہ گھبرا میں مدد گاروں میں ہوں

## د ګناه ياد پرې خوَلې راوستې

حضرتِ عتبةُ الْغُلام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئ وَلِيُّ الله تير شوے دے. يو ځلې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په يو ځائے تيريدلو نو د يو مکان خوا ته اودريدلو، نو د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بدن په لړزان شو او د بدن نه ئې خوَلې رواني شوې. چا ترينه تپوس اوکړو: محترمه! دلته ستاسو داسې حالت ولې جوړ شو؟ هغوئي اوفرمائيل: په يو دور کښې په دې

مکان کښې زما نه څه ګناه شوې وه نو ځکه چې کله هُم زه په دې ځائے تيرېږم نو ما ته خپله هٔغه ګناه ډېر سخته رایاده شي او زه ډېر شرمنده شم په دې وجه دلته زما حالت داسې شو.(حلیۃالاولیاء،246/6،رقم:8471ملخصاً)

## د حضرتِ عتبةُالْغُلام توبه

حضرتِ عتبةالْغُلام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به په يو دور کښې ډېر زيات ګناهونه کول، شراب به ئې څښل او په نورو ګناهونو کښې به هم اخته اوسيدلو. د هغوئي د اصلاح سبب څه اوشو؟ دا د زړه په غوږونو واورئ چنانچه يو ځلې حضرتِ حَسَن بَصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په يوه اجتماع کښې بيان فرمائيلو نو په دغه دوران کښې هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د پاره 27 سورۂحدید د آيت نمبر 16 دا حِصّه تلاوت کړه:

اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَ مَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ۙ

[مفهوم]ترجمۂ کنزُالْعِرفان: آيا د ايمان والؤ د پاره لا هٔغه وخت نه دے راغلے چې د هغوئي زړونه د الله د ياد او د هٔغه حق د پاره ټيټ شي کوم چې نازل شوے دے.

حضرتِ حَسَن بَصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې آيتِ کريمه تفسير بيانول شروع کړو، د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په ژبه کښې دومره تاثير وو چې خلقو د هغوئي په بيان اوريدلو باندې ژړل، په دې کښې يو ځلمے اودريدو او اوئې وئيل: اے شيخ! که زما په شان ګنهکار هُم د خپلو ګناهونو نه توبه اوکړي نو آيا الله پاک به ئې قبوله کړي؟ حضرتِ حَسَن بَصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اِرشاد اوفرمائيلو: آؤ، الله پاک به ستا ګناهونه مُعاف کړي. حضرتِ عتبةالْغُلام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هم هلته نزدې ناست وو کله چې هغوئي دا واوريدل نو د مخ رنګ ئې زيړ شو، بدن ئې په رپيدو شو او بيا ئې د خُلې نه يوه تيزه چغه اُووتله او بے هوشه شو را اوغورزيدلو. حضرتِ حَسن بَصري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په

عربي ژبه کښې یو څو شعرونه اُووئیل چې د هغو ترجمه څه داسې ده: اے د **اللّٰه** پاک نافرمانه ځلمیه! آیا تا ته معلومه ده چې د نافرمانۍ سزا څه ده؟ د نافرمانو د پاره لـمبې وهونکے دوزخ دے او په ورځ د قیامت د **اللّٰه** پاک سخته ناراضګي ده. که ته د دوزخ په وور باندې راضي ئې نو بېشکه ګناهونه جاري ساته، او که نه نو ګناهونه پرېږده. تا د خپلو ګناهونو په بدله کښې د خپل ځانه پورې ګرَوْ کړے دے، د دې د راخلاصولو کوشش اوکړه. حضرتِ عتبة الْغُلام رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ بیا چغه اُووهله او بے هوشه شولو، چې کله په هوش کښې راغلو نو اُوئې وئیل: اے شیخ ! آیا زما په شان د زمانے مشهور ګنهکار توبه به هُم **اللّٰهُ** رحیم قبوله کړي؟ حضرتِ حَسن بَصري رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ اِرشاد اوفرمائیلو: معاف کوونکے پروردګار د ظالم توبه هُم قبلوي.

حضرتِ عتبة الْغُلام رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ دغه وخت سر راپورته کړو او د **اللّٰه** پاک نه ئې درې دُعاګانې اُوغوښتلې: ﴿1﴾اے **اللّٰه** پاکه! که تا زما ګناهونو مُعاف کړي وي او زما توبه دې قبوله کړې وي نو په داسې حافظې او عقل سره زما عِزت اَفزائي اوفرمائې چې زه د قرآنِ پاک او عُلُومِ دینیه نه کوم څه هُم واورم هغه رانه کله هُم هیر نه شي. ﴿2﴾اے **اللّٰه** پاکه! ما ته داسې خوږ آواز راکړې چې زما قِراءت اوریدو باندې سخت نه سخت زړه هُم د موم په شان نرمیږي. ﴿3﴾اے **اللّٰه** پاکه! ما ته رِزقِ حلال راعطا کړې او په داسې طریقه ئې راکړې چې زه د هغې تصور هُم اونکړے شم. **اللّٰه** پاک د حضرتِ عتبة الْغُلام رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ درې واړه دُعاګانې قبولې کړې. د هغوئې رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ حافظه هُم ډیره قوي شوه، هغوئې رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ به چې کله د قرآنِ پاک تلاوت کولو نو کوم کوم کس به چې اوریدو هغه به د ګناهونو نه توبه کوله او د هغوئې رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ کور ته به هره ورځ یو پیاله د ښوروا او دوه ډوډۍ د رِزقِ حلال نه رارسیدلې او چا ته به پته هم نه لګیده چې دا څوک کېږدي؟ د حضرتِ

عتبة الْغُلام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په ټول ژوند کښې هم داسې کيدل. د دې حکايت نقل کولو نه پس حضرتِ امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: دا د داسې کس حال دے څوک چې **الله** پاک ته متوجّه شو يعنې د هغه په بارګاه کښې ئې توبه اوکړه .

(مکاشفة القلوب، ص28)

## ګناهونه ليکونکي ځلمي باندې رحمتِ الٰهي

يو ځلمے به د **الله** پاک نه ډير ويريدلو او د هغه نه به چې کله هُم څه ګناه اوشوه نو هغه به ئې په خپله ډائرئ کښې ليکله، يو ځلي چې کله د هغه ځلمي نه څه ګناه اوشوه او هغه حسبِ معمول د خپلې هغه ګناه ليکلو د پاره خپله ډائري کولاؤ کړه نو په هغې کښې د پاره 19 سورهٔ **فُرقان** د آيت نمبر 70 دا حِصَّه ليکلې شوې وه:

فَاُولٰٓىٕكَ يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍؕ وَ كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا۝۷۰

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: نو د داسې خلقو بدئ به **الله** په نيکو بدلې کړي او **الله** بخښونکے مهربانه دے (۷۰)

(مکاشفة القلوب، ص27)

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! خوشحاله شئ! د **الله** پاک رحمت ډير فراخه دے او زمونږ ګنهګارو د پاره د هغه د رحمت دروازې برسيره دي بس مونږ له په ګناهونو باندې شرمندګي او پښيمانتيا اختيارول پکار دي. مونږ ته خپل ګناهونه ياد ساتل پکار دي څنګه چې هغه ځلمي د خپلو ګناهونو ياد ساتلو د پاره هغه ليکلې خو مونږه خپل ګناهونو هيروو او څو څو کاله مخکښې کړې نيکئ يادې ساتُو او وقتاً فوقتاً ئې خلقو ته بيانوو هُم. شايد که يو حاجي داسې وي چې هغه يو څو حجونه کړي وي او هغه ته د هغې شمير ياد نه وي بلکې ټول شمير ياد ساتي او خلقو ته هُم وائي چې ما دومره حجونه او دومره عُمرې کړې دي. صِرف دا نه بلکې د نورو نيکو معامله هُم څه داسې ده لکه څنګه چې ډير خلق دا وائي

چې زما د دومره مودې نه د دَلائلُ الخیرات شریف لوستلو معمول دے، صاحبه! زه روزانه دومره زره دُرُدو شریف وایم، زه روزانه دومره نفلونه کووم وغیره وغیره. دغسې هر کس د خپلو نیکو شمیر یاد ساتي خو د ګناهونو شمیر یاد نه ساتي بلکې که د یوې ګناه په وجه څه پښیمانتیا محسوسوي نو هغه هُم یو تېنشن ګڼې چې دا رانه هیره شي نو ښه به وي، دغسې د خپلو ګناهونو هیرولو په فِکر کښې وي حالانکه اُصول دا دے چې بنده نیکۍ اوکړي او هیرې ئې کړي او ګناهونه یاد ساتي ځکه چې د نیکو یادو ساتلو فائده نشته بلکې که نیکۍ یادې ساتي او په هغې خوشحاله اوسي او خلقو ته ئې بیانوي نو د ریاکارۍ په صورت کښې نقصان هُم کیدے شي او د ګناهونو یاد ساتلو فائده ده چې ګناهونه یاد وي نو په زړه کښې به پښیمانتیا راځي، زړه به ئې پرې غمژن وي نو کله خو به ورته د رښتینې توبې توفیق نصیب شي. او که په ګناه باندې پښیمانتیا لري او زړه ئې پرې غمژن وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د دې به هُم فائده کیږي لکه څنګه چې د ګناه لیکونکي ځلمي په حکایت کښې تاسو اوکتل چې د هُغه ځلمي نه به کله ګناه اوشوه نو هغه به د پښیمانتیا په وجه هغه په خپله ډائرۍ کښې لیکله، د هغې د افائده اوشوه چې د قُدرت قلم په هغه ډائرۍ کښې د پاره 19 سورۀ فرقان د آیت نمبر 70 دا حِصَّه ﴿فَاُولٰٓئِكَ یُبَدِّلُ اللّٰهُ سَیِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ ؕ وَ كَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا۝﴾ اولیکله.

عصیاں سے کبھی ہم نے کنارا نہ کیا
پر تو نے دل آزردہ ہمارا نہ کیا
ہم نے تو جہنّم کی بہت کی تجویز
لیکن تِری رحمت نے گوارا نہ کیا

# د توبې په باره کښې تپوس کوونکې زنانه

حضرتِ ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي چې يو شپه ما حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ماسخُتن لـمونځ اوکړو او بهر اُووتلم، په لاره کښې راسره يوه زنانه ملاو شوه، هغې زما نه تپوس اوکړو چې: ما يوه ګناه کړې ده آيا زه توبه کولے شم؟ ما ترينه تپوس اوکړو: تا کومه ګناه کړې ده؟ هغې اُووئيل: ما بدکاري کړې وه او کله چې د هغې نه ماشوم پيدا شو نو ما هغه قتل کړو. ما هغې ته اُووئيل: ته تباه شوې او ستا د پاره هيڅ توبه نشته. هغه ښځه د دې غم نه بے هوشه شوه او راپريوته او زه په خپله لار لاړم. بيا زما په زړه کښې خيال راغلو چې ما د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه بې تپوسه هغه ښځې ته دا خبره ولې اوکړه؟ چنانچه زه د تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شوم او ټوله واقعه مې عرض کړه، د **الله** پاک خوږ محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائيلو: تا ډير بد اوکړل، آيا تا دا آيت نه دے لوستلے :

وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ
(پ19، الفرقان:68)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او هغه خلق کوم چې **الله** سره د بل کوم معبود عبادت نه کوي.

حضرتِ ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: چې څنګه ما دا خبره واوريده نو زه د هغې ښځې په تلاش کښې اُووتلم او د هر يو نه مې تپوس شروع کړو چې ما ته د هغه ښځې پته اوښائيئ کومې چې زما نه د مسئلې تپوس کړے وو، تر دې پورې چې د هغې ښځې د تلاش کولو په وجه ماشومانو زه ليونے اوګڼلم ، آخِر دا چې ما هغه ښځه اوموندله او هغې ته مې دا آيت واورو، کله چې ما د دې ځائے

﴿ فَاُولٰٓئِكَ يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ ﴾ (پ19، الفرقان:70)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو د داسې خلقو بدئ به الله په نيکو بدلې کړي."

پورې ور واروو نو هغه د خوشحالۍ نه ديوانه شوله او اُوئې وئيل: ما خپل باغ د **اللّٰه** پاک او د هغه د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره اُوبخښلو. (مكاشفة القلوب ,ص28)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږ ته د **اللّٰه** پاک د رحمت نه مايوسه کيدل نه دي پکار، د توبې نه هيڅ کله غفلت کول نه دي پکار او وقتاً فوقتاً توبه کول پکار دي.


کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی | قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نيک او لمونځ ګزاره جوړيدلو نسخه

د خوفِ خدا او عشقِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حاصلولو د پاره د هر خيالي [يعني د اتوار د شپې] د ماسخُتن د لمونځ نه پس د اميرِا هلِ سنّت دامت بَرَكاتُهُمُ العاليه د مدني مذاکرې د کتلو او اوريدلو او د هر زيارت د ماښام د لمونځ نه پس د عاشقانِ رسول ديني تحريک، دعوتِ اسلامي هفته وارې د سنتو ډکې اجتماع کښې د ثواب په نِيَّت د ټولې شپې تيرولو عرض دے، د ماسخُتن د لمانځه نه پس بيشکه هُم هلته آرام اوکړئ او که **اللّٰه** پاک توفيق درکړي نو تهجد هُم ادا کړئ، هره مياشت کم از کم د درې ورځو مدني قافله کښې د سنّتو ډک سفر او روزانه د خپلو اعمالو د جائزه اخستلو په ذريعه د "**نيک اعمال**" رساله کښې خانے ډکوئ او د هرې مياشتې په يکم تاريخ ئې خپل ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم! د دې په برکت به د سنّتو د پابند جوړيدو، ګناهونو نه د نفرت کولو او د ايمان د حفاظت د پاره د فکر مند اوسيدو ذهن درنصيب شي.

## د راروانې هفتې رساله





عالمي مدني مرکز فيضان مدينہ محلہ سوداگران پراڻي سبزي منڊي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net